مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد انور آخړ ۲۰۲۱/۱۱/۰۴

# په ویتنام او افغانستان کې د امریکایانو جګړې

## (پرتلنه)

### دیارلسمه برخه

**افغانستان**

**د طالبانو پراخ بریدونه، لوی بری او د امریکایانو تېښته:**

د طالبانو ځواکونو د افغانستان ټول ولایتونه د لږ مقاومت یا پرته له جګړې ونیول، لومړنی ولایت چې د طالبانو لاس ته ولوید د نیمروز ولایت ؤ چې د ۱۴۰۰ل. ل، کال د زمري په ۶مه نېټه بې له جګړې ښځه سقوط شو، وروسته د نیمروز ولایت له نیولو، په شمال کې د ۲۴ ساعتونو په اوږدو کې د شبرغان ولایت چې د جنرال عبدالرشید دوستم پلارنی ولایت دی او ازبکو ملیشو د طالبانو پر وړاندې جګړه کوله سقوط وکړ. (د زمري ۷مه) طالبان د جنرال دوستم کور (قصر) ته ننوتل او د دوستم د مارشالی (؟!) یونیفورم (دریشي)، یو تن طالب جنګیالي واغوسته چې ویډیوګانې یې په فیسبوک کې ښکته پورته کېدلې. د شبرغان چارواکي او یو شمېر ازبک جګړه ماران د بلخ ولایت مرکز مزار شریف ته وتښتېدل.



د بلخ په ولایت کې دوه تنه جګړه ماران، جنرال دوستم او عطا محمد نور چې دواړه پخواني رقیبان وو، په خپل منځ کې ژمنه وکړه: چې خپل خلک به یوازې نه پرېږدو او د خپلو وینو په بیه به له طالبانو سره جګړه کوو.

دواړو په خپل اتحاد او ټینګ هوډ ټینګار وکړ ویې ویل چې که دا ځل دغه ټینګ شوی یووالی کوم لوري مات کړ هغه به ملي خائین وي.

عطا محمد نور وویل:«اسارت نه غواړم خو که تېي شم بیا به لاس ته ورشم.»
عطا نور زیاته کړه:«... تاسو باور ولرئ تر هغې چې په مورږ دواړو کې سا وي ښار به نه پرېږدو.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ



جنرال دوستم وویل:«پرېکړه دا ده چې په هر ډول کیږي، حتا که زموږ رهبرانو د وینو په بیه هم تمامه شي له لرغوني بلخ څخه به دفاع کوو.»
جنرال دوستم د خپلو غورو په دوام کې وویل:«تر هغې چې ملت موږ ته شا نه کړي، موږ به هم تر هغې چې سا په تن کې ولرو او په رګونو کې مو وینه روانه وي، که په دې لاره کې شهیدان هم شو پرې وياړو خو خپل خلک به یوازې پرې نه ږدو.»
دغه راز جنرال دوستم د خپل اتحاد په هکله خلکو ته وویل چې موږ ډاډ درکوو، هغه اشتباه به تکرار نه شي، تر څو چې موږ ژوندي یو په یو سنګر کې به وو، له دغه ملت او نظام به دفاع کوو.

جنرال دوستم او عطا نور وروسته له یوې جګړې څخه دویم ځل جګړې ته تیښګ نه شول او د مزار شریف له ښاره د هغه ژمنو او غورو پر خلاف چې خلکو ته یې کړي وې په داسې حال کې ازبکستان ته وتښتیدل، چې د جنرال دوستم د مارشالی دریشي طالبانو اغوستي وه .
عطا محمد نور خپله لیونۍ تېښته خپله بریا وبلله نو په ویاړ یې وویل:«متاسفانه زموږ د سخت مقاومت سره، سره د یوې لویې بزدلانه او منظمې دسیسې په نتیجه کې چې د افغانستان د امنیتي او دولتي ځواکونو ټول تجهیزات طالبانو ته سپارل شوي وو، دوی غوښتل په دې دسیسه کې مارشال دوستم او ما په دام کې ښکېل کړي خو بریالي نه شول.»
وروسته له هغې چې جنرال دوستم، عطا نور او نور پخواني جګړه ماران په تېښته بریالي شول، د روان کال د تلې په ۳۰مه نېټه یې (د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مقاومت ملي عالي شورا) په نوم، د یو نامالوم ځایه د جوړولو خبر ورکړ، په دغه شورا کې عبدالرب رسول سیاف، محمد محقق، عطا نور، جنرال دوستم او نور غړیتوب لري، دغې شورا ټینګار کړی دی چې له سیاسي لارې څخه سولې ته لومړیتوب ورکوی.
په اعلامیه کې راغلي دي چې افغانستان د بې کفایتی، انحصار، پراخ فساد، ناځوانی، خیانت او غداری په پایله کې بې نظمه او بې نظامه شو او دولت وپاشل شو.

په اعلامیه کې د نورو ډېرو مسایلو تر څنګ د افغانستان له خلکو غوښتنه شوي ده چې د داخلي استبداد او خارجي تیري او اشغال پر وړاندې یو اوږده او سخت مقاومت ته چمتو شي.
د اعلامیې په پای کې دا هم ویل شوي دي چې یوه ډله کسان دې وګمارل شي، د اسلامي جمهوري نظام د ناڅاپي سقوط عوامل دې وڅېړي ترڅو هغه کسان چې په دې شرموونکي معامله کې لاس لري؛ وپېژندل شي او د ملي خایینانو په نوم دې معرفي شي.

دغو بګېل بتېرانو له هغو خلکو د طالبانو پر وړاندې د مقاومت غوښتنه کړې ده چې څو ورځې د مخه یې د دوی هوایي ډوزې او اپلتې اوریدلي وې او دا یې هم ولیدل چې همدغه خلک یې پرېښودل او دوی په یوه منډه ازبکستان ته ورسیدل، په داسې حال کې چې دوی په ټینګه سره ویلي وو چې نه به تښتي او خپل خلک به نه پرېږدي.



بله دا چې د افغانستان د جمهوري نظام د پرځولو عاملین په خپله دوی دي، په افغانستان کې له دغو کسانو نور ستر ملي خائینان او لوی جنایتکاران نه شته، په تېرو څلوېښتو کلونو کې یې دومره لوی، لوی خیانتونه کړي دي چې له ملي خایینانو هم ور هاخوا دي.
د جمعیت باند یو بل پخوانی چاروکی (تورن محمد اسماعیل خان) چې د شورویانو پر وړاندې په خپل جهاد او له امریکایانو سره په خپل کړي فساد، مرستو او پلویتوب ویاړي، دغه مجاهد صاحب د امریکایانو په پلوی جګړې ته هم جهاد وایي، نوموړی په ۲۰۰۱ز، کال کې د امریکا د (C. I. A)د لسو ګروپونو څخه د یو مسوول ؤ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

اسماعیل خان په یوه غونډه کې د هرات وګړو ته وویل چې د راتلونکي په اړه دې ډاډه اوسي، مجاهدین له ښاره دفاع کوي، د هرات په هره ولسوالۍ کې په سلګونو وسله وال مجاهدین شتون لري چې کولی شي خپلې سیمې وساتي خو دا د حکومت بې کفایتي ده چې په مجاهدینو باور نه کوي.
دغه امریکا پلوي مجاهد زیاته کړه:«د هرات خلکو ته وایم، هر څوک چې د دغې څمکې آبرو ته لاس اوږد کړي، له هغه سره جګړه کوم او هیڅ کله نه پرېږدم چې څوک زموږ په عزت او آبرو تېری وکړي او موږ د هرات له اوسیدونکو دفاع کوو.»
مجاهد صاحب جمهوري حکومت ته ګوتڅنډنه وکړه چې که د هرات د مجاهدینو د بې وسلې کولو هڅه وکړي، له غبرګون سره به مخ شي او د مجاهدینو د غبرګون د هر ډول ناوړو عواقبو مسؤلیت به د حکومت په غاړه وي.
اسماعیل خان وویل:«هیله ده یوه ړښتني سوله رامنځ ته شي خو که سوله ونه شوه، خلک دې اندېښنه نه کوي، موږ نه پرېږدو وضعیت لاپسې ناوړه شي، د خپلو خلکو له آبرو او عزت څخه ساتنه کوو، موږ نه پرېږدو چې زموږ د خلکو عزت تر پښو لاندې شي.»
هغه د تل په شان د خپلو غورو په لړۍ کې طالبانو ته وویل:«که د زور له لارې واک ته رسیدل ممکن وای، شوروي به په افغانستان کې په واک کې پاتې وای، امریکا او بهرنیو ځواکونو هم ونه شول کولی د جګړې له لارې بریالي شي.»

https://8am.af/ismail-khan-we-are-ready-to-defend-herat-do-not-worry
( /هشت صبح۲۹ حمل ۱۴۰۰)

هغه مهال چې طالبانو د هرات ښار پر څنډو بریدونه پیل کړل اسماعیل خان د طالبانو پروړاندې د هرات اوسیدونکي د جګړې په موخه وهڅول او د هغوی رهبري یې په لاس کې واخیسته. دا داسې حالت ؤ چې د هرات له ۱۹ ولسوالیو څخه ۱۷ یې طالبانو نیولې وې.
اسماعیل خان د ۲۰۲۱ز، کال د جولای په ۹مه نېټه له هرات څخه د دفاع له لپاره (د افغانستان د لویدیځې حوزې د مقاومت حرکت) اعلان وکړ، ده وویل:«په زرګونو وسله وال کسان د افغانستان د لویدیځې حوزې د مقاومت حرکت، د امنیتي ځواکونو په ملاتړ د ولسوالیو د بیا نیولو او د طالبانو د له منځه وړلو په موخه لاس په کار دي.»
هغه زیاته کړه:«د هرات ښار به سقوط ونه کړي.»
اسماعیل خان د هرات پر خلکو غږ وکړ چې د هرات د دفاع لپاره نر او ښځې پورته شي او په دې سخت حالت کې د جهل او ستم لښکر لاسونه لنډ کړي. (هشت صبح ۱۰ اسد ۱۴۰۰)



اسماعیل خان داسې فکر کړی ؤ چې د طالبانو په پرتله ډېر ځواکمن او لوړ مورال لري، نو ده په خپلو خبرو کې د نورو چارواکو په څېر هوایي ډوزې وکړې، له هراته هم پسې ووت او نورو لویدځو ولایتونو ته وخوځید، ویې وویل: د دغو کسانو مشري په خپله غاړه اخلي او وروسته له هغې چې هرات له طالبانو پاک کړي نو د لویدیځې حوزې نور ولایتونه به هم له طالبانو پاکوي.
په پای کې دغه غورتن مجاهد، نه د هراتیانو لپاره ځان مړ کړ نه تېښې شو، نه یې داسې جګړه وکړه چې تولي مرمۍ او مهمات په جګړه ورختم شوي وي او بیا اسیر شوی وي، د خپلو هغو ډکو شاجورو سره چې په خپله سینه یې ترلي دي، هغه چا ته سلامي او به ګونډو شو چې ده (د جهل او ستم لښکر) بللي ؤ.
(د زمري ۱۴۰۰/۲۲ل. ل)
نېټه: ۱۴۰۰/۸/۱۳ل. ل

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په څېر و لولئ